

# ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

آبادي اوونیزه
هفته نامه آبادی

ګڼه: ۳۳ | مسلسل نمبر: ۷۵ | شنبه، د جمادي الأول ۲۸مه، ۱۴۴۶ هـ. ق کال





د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د قوس میاشتې په پنځمه نېټه د روسیې فدراسیون د ملي امنیت شورا د عمومي منشي سرګې شویګو سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال د سیاسي اړیکو، اقتصادي همکاریو، سوداګرۍ او ترانزیټ او همدا راز افغانستان کې د روسي پانګوالو پر پانګونې خبرې وشوې.

افغانستان ته د روسیې هېواد د لوړپوړي پلاوي او د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ترمنځ په لیدنه کې د سیاسي، اقتصادي اړیکو، سوداګرۍ، ترانزیټ او پانګونې په اړه خبرې وشوې. په سیاسي برخه کې د روسیې هېواد د پلاوي سفر به د دواړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي باور او اعتماد فضا را منځته کړي. د دې ترڅنګ به د اسلامي امارت لپاره د نړیوالو باورونو ترلاسه کول د روسیې له لوري د عملي ګامونو په پورته کولو سره اسانه شي. دوهمه موضوع اقتصادي برخه ده. په افغانستان کې د تیرو ناخوالو له امله اقتصاد سخت زیانمن شوی دی. له اقتصادي ودې پرته د هېواد پرمختګ ناشونی ځکه دی چې هرڅه په اقتصاد پورې تړاو لري. هغه که صنعت، کرنه، روغتیا، سوداګري یا هم نورې برخې دي، ټول له اقتصاد سره تړلي دي. افغانستان دا مهال د اقتصاد په برخه کې د همکاریو پراختیا ته جدي اړتیا او د روسیې په څېر قوي او مستحکم ملګري ته اړتیا لري. خو داسې هم نه ده چې یوازې افغانستان اړ دی، بلکې روسیه هم کولی شي د افغانستان له طبیعي زیرمو او ستراتیژیک موقعیت څخه ګټه پورته کړي.

افغانستان دا مهال هڅه کوي د سوداګرۍ په برخه کې پر یوه یا دوو هېوادونو له اتکاء څخه ځان خلاص کړي. خپله سوداګري نړیواله او له هغو نړیوالو دهلیزونو او ترانزیټي لارو ګټه پورته کړي چې کولای شي، د هېواد صادرات تر نړیوالو مارکیټونو ورسوي. د شمال- جنوب دهلیز هغه لار ده چې له دې څخه په استفادې سره به افغانستان خپل توکي روسیې او له هغه ځایه اروپایي هېوادونو ته انتقال کړي. د افغانستان موقعیت دا هېواد د منځنۍ آسیا، جنوبي آسیا، او منځني ختیځ ترمنځ په یوه مهم تجارتي پل بدلوي، نو روسیه کولای شي چې د افغانستان د ستراتیژیک موقعیت څخه په ګټې اخیستنې سره د اسیایي هېوادونو بازارونو ته لاسرسی پیدا او خپل توکي صادر کړي. وروستی او مهمه مسله د پانګونې ده. په افغانستان کې د پانګونې هره برخه د دوه اړخیزو ګټو زمینه برابروي. نړیوال پانګوال کولی شي په صنعت، کانونو، کرنه، ټکنالوژۍ او زیربناوو کې داسې پروژې پیل کړي چې نه یوازې د افغانستان د اقتصادي پرمختګ سبب شي، بلکې پانګوالو ته هم د پام وړ ګټه ورکړي. په لنډ ډول ویلای شو چې دا سفر نه یوازې د دوه اړخیزو اړیکو د نوي پړاو د پیل نښه ده، بلکې د سیمې په کچه د سولې او ثبات د ټینګښت لپاره د همکارۍ یو نوی دور هم دی. په دې سره به افغانستان او روسیه دواړه په یادو هېوادونو کې له شته اقتصادي فرصتونو څخه پوره ګټه پورته او افغانستان به وکولای شي، له دې فرصتونو څخه په نړیواله کچه د اړیکو د پراختیا له پاره استفاده وکړي او هم خپل اقتصاد پیاوړی کړي.

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د روسیې فدراسیون د ملي امنیت شورا له عمومي منشي سره وکتل



۲ صفحه

## د منظورو شوو پروژو په قراردادونو کې شاوخوا ۳ میلیارده افغانۍ سپما شوې



۴ مه صفحه

## د ستر مقیاس په ۲۱ کانونو کې ۴۱۵ میلیارده افغانۍ پانګونه کېږي



۴ مه صفحه

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباډي اوونیزه
هفته نامه آبادی

# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د روسیې فدراسیون د ملي امنیت شورا له عمومي منشي سره وکتل



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د قوس میاشتې په پنځمه نېټه د روسیې فدراسیون د ملي امنیت شورا د عمومي منشي سرګي شویګو په مشرۍ له راغلي پلاوي سره د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل. په دغه لیدنه کې د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي، د اقتصاد وزیر قاري دین محمد حنیف، د روسیې فدراسیون د لومړي وزیر مرستیال، د افغانستان لپاره د روسیې فدراسیون د ولسمشر ځانګړي استازي ضمیر کابلوف او د دواړو هېوادونو یوشمېر نورو مسوولینو حضور درلود.

د دغه لیدنې پر مهال د سیاسي اړیکو، اقتصادي همکاریو، سوداګرۍ او ترانزیټ کچې پر زیاتېدو او همدا راز افغانستان کې د روسي پانګوالو پر پانګونې خبرې وشوې.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د اسلامي امارت اقتصاد محوره بهرني سیاست ته په اشارې سره وویل، افغانستان ته د امنیت او ثبات په راګرځېدو سره دغه هېواد په سیمه کې د اقتصادي همکاریو، سوداګرۍ او ترانزیټ په مرکز بدل شوی چې دا نه یوازې د افغانستان، بلکې د سیمې په ګټه دی.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، اسلامي امارت د هېواد د امنیت او اقتصادي ودې لپاره هڅه کوي چې په همدې موخه یې په هېواد کې د نشه‌یي توکو کښت بند کړی او ټولې هغه ډلې یې له منځه وړې دي، چې د افغانستان او سیمې امنیت او اقتصاد ته زیان رسوي. محترم ملا صاحب وویل، افغانستان د شمال - جنوب اقتصادي دهلېز په تقویت کې مؤثر رول لوبولو ته لېواله دی او په دې سره غواړي په سیمه کې اقتصادي اتصال عملي او له ستونزو خلاص شي. محترم ملا صاحب وویل: «موږ هڅه کوو د سیمې او لرې پرتو هېوادونو ته د افغانستان صادراتو ته زمینه برابره کړو چې په دې برخه کې له روسیې څخه د همکارۍ غوښتنه کوو.»

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، د دواړو هېوادونو ترمنځ د رسمي اړیکو د کچې لوړوالی به په اقتصادي برخه کې د عملي پرمختګونو بې شمېره فرصتونه رامنځته کړي او د افغانستان اسلامي امارت به د سیمې د یو مسوول اقتصادي شریک په توګه مثبت رول ولري.

د روسیې فدراسیون د ملي امنیت شورا عمومي منشي سرګي شویګو د خپلو خبرو پر مهال په افغانستان کې رامنځته شوو سیاسي، اقتصادي او امنیتي پرمختګونو ته په اشارې سره وویل، اوسنی سفر یې د روسیې د ولسمشر په هدایت ترسره شوی او روسیه له افغانستان سره د دوه اړخیزو اړیکو د همکارۍ کچې زیاتېدو ته لېواله ده او په همدې موخه به په نږدې وخت کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي او اقتصادي اړیکو د پراختیا لپاره د اسلامي امارت نوم د روسیې له تورلېست څخه لرې کړي. روسي پلاوي له افغان – ټرانس پروژې څخه د ملاتړ او په دغه برخه کې د همکارۍ په څرګندولو سره زیاته کړه، روسیه د سېنټ پیټرزبورګ اقتصادي فورم پرمهال له افغانستان سره د شوو اقتصادي همکاریو عملي پیل ته چمتو ده او همدا راز روسي پانګوال او دولتي شرکتونه په افغانستان کې د کانونو استخراج، ټرانسپورټ او کرنې په برخو کې هم پانګونې ته لېوالتیا لري.

د غونډې په پای کې دواړو لورو د سوداګرۍ، ترانزیټ او پانګونې برخو کې د پراخو همکاریو د رامنځته کولو په موخه د ګډ حکومتي کمېسیون پر رامنځته کولو ټینګار وکړ، چې تر چتر لاندې به یې په مختلفو برخو کې نورې کمېټې هم فعالیت ولري.


ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
ابادي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی

# په بغلان ولایت کې د تیرپارک او په مزارشریف ښار کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحو ته د تایید نظر ورکړل شو



د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د قوس میاشتې په شپږمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته له اجنډا سره سم د بغلان ولایت په خنجان ولسوالۍ کې د تیرپارک جوړولو او په مزارشریف ښار کې د اطلاعات او کلتور وزارت پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحو د تخنیکي ارزونې راپورونه وړاندې شول. د راپورونو له وړاندې کولو وروسته د بغلان ولایت د خنجانو ولسوالۍ کې د شاوخوا ۲۰۰ میلیونو افغانیو په پانګونې سره د تیرپارک جوړولو او همدا راز په مزارشریف ښار کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت پر ځمکه د ۸۰ میلیون افغانیو په پانګونې سره د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحو ته د تایید نظر ورکړل شو.

همدا راز په دغه غونډه کې د لوګر ولایت په مرکز پُل علم ښار کې د ۱۰۰ میګاواټه لمریزې بریښنا، د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې د ۵۰ میګاواټه لمریزې بریښنا او د جلال اباد ښار په څلورمه ناحیه کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو پر طرحو هم بحث وشو. د یادو طرحو د هراړخیزې ارزونې لپاره جلا جلا کمېټې وټاکل شوې څو خپل راپورونه په ټاکل شوو نېټو د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

# معاون اقتصادی ریاست الوزراء با منشی شورای امنیت ملی روسیه ملاقات نمود



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء پنجم قوس ۱۴۰۳ خورشیدی با هیئت تحت رهبری سرگی شویگو، منشی شورای امنیت ملی فدراسیون روسیه در قصر چهارچنار ارگ دیدار نمود.

در این ملاقات نورالدین عزیزی وزیر صنعت و تجارت، قاری دین محمد حنیف وزیر اقتصاد، معاون صدراعظم فدراسیون روسیه، ضمیرکابلوف نماینده فوق العاده رئیس جمهور فدراسیون روسیه در امور افغانستان و شماری دیگر از مقامات هر دو کشور حضور داشتند.

در این ملاقات روی روابط سیاسی، همکاری های اقتصادی، بلند بردن سطح تجارت و ترانزیت و همچنان سرمایه گذاری سرمایه گذاران روسی در افغانستان بحث صورت گرفت.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء با اشاره به سیاست خارجی اقتصاد محور امارت اسلامی گفت، با بازگشت امنیت و ثبات به افغانستان، این کشور به مرکز همکاری‌های اقتصادی، تجارتی و ترانزیتی در منطقه تبدیل شده است که نه تنها به نفع افغانستان، بلکه به نفع منطقه است.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند افزود که امارت اسلامی برای امنیت و توسعه‌ی اقتصادی کشور تلاش می کند، به همین منظور کشت مواد مخدر را در کشور منع کرده و تمام آن گروه‌هایی را از بین برده که به امنیت و اقتصاد افغانستان و منطقه آسیب می‌رسانند.

محترم ملا صاحب گفت، افغانستان علاقمند است تا در تقویت دهلیز اقتصادی شمال-جنوب نقش مؤثر داشته باشد و با این کار می خواهد اتصال اقتصادی را در منطقه عملی و از مشکلات رهایی یابد. محترم ملا صاحب گفت:«ما در تلاش هستیم که زمینه را برای صادرات افغانستان به منطقه و کشورهای دور فراهم سازیم.»

به گفته معاون اقتصادی رئیس الوزراء، افزایش سطح روابط رسمی دو کشور فرصت های متعددی را برای تحولات عملی در بخش اقتصادی ایجاد خواهد کرد و امارت اسلامی افغانستان به عنوان یک شریک مسؤل اقتصادی منطقه، نقش مثبت خواهد داشت.

سرگی شویگو، منشی شورای امنیت ملی فدراسیون روسیه


ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصـادي او ټــولنیزو مسایلــو په برخــه کــې
د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اوونیزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی

در جریان صحبت‌های خود با اشــاره به تحولات سیاسی، اقتصادی و امنیتی در افغانستان گفت، سفر فعلی به هدایت رئیس جمهور روســیه انجام شده و روسیه علاقمند افزایش همکاری در روابط دوجانبه با افغانســتان است و به همین منظور در آینده‌ی نزدیک برای توســعه‌ی روابط سیاسی و اقتصادی دو کشور نام امارت اسلامی از فهرست سیاه روسیه حذف خواهد شد.

هیئت روســی حمایت خود را از پروژه افغان-ترانس اعلام کرده و در این راســتا ابراز همکاری نموده؛ افزود، روســیه آماده عملی کردن وعده هــای همکاری در فورم اقتصادی سنت پیترز بورگ روسیه اســت و سرمایه گذاران و شرکت های دولتی روسی نیز علاقمند سرمایه گذاری در افغانستان در زمینه های استخراج معادن، ترانسپورت و زراعت هستند.

در پایــان این دیدار هــر دو طرف بر ایجاد کمیســیون مشــترک دولتی به منظور ایجاد همکاری‌های گسترده در عرصه‌های تجارت، ترانزیت و سرمایه‌گذاری تاکید کردند که زیر چتر آن کمیته های دیگری در زمینه های مختلف فعالیت خواهند داشت.

## د منظور شوو پروژو په قراردادونو کې شاوخوا ۳ میلیارده افغانۍ سپما شوې



اسلامي امارت د هېواد بیارغونې په موخه هڅه کوي چې په مختلفو برخو کې بېلابېلې زېربنايي پروژې عملي کړي. په همدې موخه د ملي تدارکاتو کمېسیون په خپلو نوبتي غونډو کې د منظور شوو پروژو په قراردادونو کې شاوخوا ۳ میلیارده افغانۍ سپما کړې دي.

د یاد کمېســیون په جوړو شویو غونډو کې تر دې مهاله په مختلفو ناستو کې د شــاوخوا ۸۵ میلیاردو افغانیو په ارزښت ۳۱۷ پروژې منظورې شــوې دي چې د یو شمېر چارې یې بشپړې او د ځینو نورو عملي چارې روانې دي.

په منظورو شویو پروژو کې چې شمېر یې ۳۱۷ ته رسېږي، د ښــارونو اړوند زېربنا او خدماتو، کلیو پراختیا، ترانســپورټ، روغتیا، بریښــنا، اوبو مدیریت، کرنې، مخابراتو، د څښاک اوبو، رېل پټلۍ جوړولو او بیارغونې او نورو برخو کې پروژې شــاملې دي. په ملي تدارکاتو کمېسیون کې د منظورو شوو پروژو په تدارکاتي پروســو کې سرعت، روڼتیا او اقتصادیت رامنځته شــوی. د ولایتونو متوازن انکشاف او د هېوادوالو اړتیاوو ته په کتو مهمو پروژو او همداراز د منظورو شوو پروژو په تطبیق کې د کورنیو تولیداتو کارونې ته لومړیتوب ورکړل شوی دی.

یادې پروژې د هېواد د پلازمېنې کابل په ګډون په بېلابېلو ولایتونــو کې پلي کېږي. ددې پروژو په بشــپړېدو سره نه یــوازې د هېواد په بېلا بېلو برخو کــې پرمختګونه رامنځته کېږي، بلکې ترڅنګ یې زرګونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه هم برابره شوې ده.

## د ستر مقیاس په ۲۱ کانونو کې ۴۱۵ میلیارده افغانۍ پانګونه کېږي



د لومړنیو ترسره شــویو سروې‌ګانو پر اســاس افغانستان د شــاوخوا ۳ ټریلیون ډالرو په ارزښــت طبیعي زېرمې لري.
اسلامي امارت د کانونو په برخه کې پانګونه، په مسلکي ډول د کانونو استخراج او پروسس په خپلو لومړیتوبونو کې نیولې دي. له څه باندې دربیو کلونو راهیسې تقریباً ۴۱۵ میلیاردو افغانیو په پانګونې د ۲۱ ســتر مقیاس کانونو د اکتشــاف، استخراج او پروســس چارې پیل شوې دي. قرارداد شوي کانونه په هرات، غور، تخار، بغلان، پروان، کندهار او کابل ولایتونو کې موقعیت لري. دغه کانونه د اوســپنې، سرب او جســتو، سرو زرو، یاقوتو، کرومایټ ډبرو، ســیمنټو او ډبرو ســکرو دي. د یادو کانونو د اکتشاف، استخراج او پروسس قراردادونه د ازادې داوطلبۍ له لارې له معتبرو کورنیو او

بهرنيو شرکتونو سره لاسليک شوي دي.
پر دې سربېره د نورو ستر مقياس کانونو جيولوجيکي او جيوفزيکي مطالعات بشپړ شوي او د قراردادونو پر ورکړه يې کار روان دی. په قرارداد ورکړل شويو کانونو کې لسګونو زرو هېوادوالو ته په مستقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه برابر شوې ده.

د يادونې وړ ده چې د کانونو په سکتور کې پانګونه خورا با ارزښته ده او کولی شي چې ملي بوديجې ته د تمويل غوره سرچينه او هېواد په اقتصادي ثبات کې رغنده رول ولوبوي.

## TENDER NOTICE

The Ministry of Mines and Petroleum hereby invites all interested local and foreign companies to participate in the bidding process of the following large-scale mining contracts.
The interested bidders can download the capability statement and pre-qualification questionnaire from the Ministry's website (http://smmd.momp.gov.af/) or obtain from the Directorate of Large-Scale Mines Regulations, located on Macrorayan Square, Kabul, Afghanistan.
Submit the filled form to Bidding & Evaluation Department by 19 December 2024.

### Project Details

| NO | PROJECT NAMES | DISTRICTS | PROVINCES | MINERALS | AREA (km²) |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Wekador Gold | Raghastan | Badakhshan | Gold | 40.692151 |
| 2 | Chel Kan Shahr Gold | Shahr Bazarg | Badakhshan | Gold | 75.34135 |
| 3 | Qale-Zal Gold | Qale-Zal | Kunduz | Gold | 5.975845 |
| 4 | Se Koh Polymetallic | Kohstan | Faryab | Polymetallic | 1.12 |
| 5 | Gaumast Lead | Malestan | Ghazni | Lead | 1.724044 |
| 6 | Pashti Koh Iron | Shindan | Herat | Iron | 1.302192 |
| 7 | Hub-Garmak Copper | Adraskan | Herat | Copper | 4.630315 |
| 8 | Jar Zamastani Marble | Chasti Sharif | Herat | Marble | 1.582139 |
| 9 | Kaftar Khan Marble | Shakhali | Parwan | Marble | 1.2783 |
| 10 | Gulastan Marble | Gulastan | Bamyan | Marble | 8.900388 |
| 11 | Kalor Coal | Tolak | Ghor | Coal | 1.503 |
| 12 | Atta khan Marble | Koh Band | Kapisa | Marble | 4.947 |
| 13 | Block (A) Yord Bala | Bahsood | Wardak | Marble | 2.778609 |
| 14 | Block (B) Yord Bala | Bahsood | Wardak | Marble | 1.288785 |
| 15 | Block (C) Yord Bala | Dymerdad | Wardak | Marble | 1.310164 |
| 16 | Khoja Gor Coal | Jond | Badghis | Coal | 1.95204 |

Directorate of Large-Scale Mines Regulations

## اطلاعیه داوطلبی

وزارت معادن و پترولیم ساحات معدنکاری ذیل را جهت عقد قرارداد معدنکاری به مقیاس بزرگ به داوطلبی می سپارد، داوطلبان اعم از داخلی و خارجی می توانند جهت اشتراک در پروسهٔ داوطلبی اظهارنامه علاقمندی و پرسشنامهٔ ارزیابی قبلی اهلیت را از ویب سایت (http://lsmmd.momp.gov.af/) و یا از ریاست تنظیم امور معادن بزرگ وزارت معادن و پترولیم، واقع چهار راهی مکروریان کابل- افغانستان دریافت نموده و بعد از خانه پری الی تاریخ (۲۹ قوس ۱۴۰۳) به آمریت ارزیابی داوطلبی، ریاست تنظیم امور معادن بزرگ تسلیم نمایند.

### مشخصات ساحات معدنکاری

| شماره | اسم پروژه ها | ولسوالی | ولایت | نوع مواد | مساحت (km²) |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | پروژهٔ طلا ویکادور | راغستان | بدخشان | طلا | ٤٠,٦٩٢١٥١ |
| ۲ | پروژهٔ طلا چهلکان شهر | شهر بزرگ | بدخشان | طلا | ٧٥,٣٤١٣٥ |
| ۳ | پروژهٔ طلا قلعه ذال | قلعه ذال | کندز | طلا | ٥,٩٧٥٨٤٥ |
| ٤ | پروژهٔ پولی میتال ساحهٔ سه کوه | کوهستان | فاریاب | پولی میتال | ١,١٢ |
| ٥ | پروژهٔ سرب گاومست | مالستان | غزنی | سرب | ١,٧٢٤٠٤٤ |
| ٦ | پروژهٔ آهن پشت کوه | شیندند | هرات | آهن | ١,٣٠٢١٩٢ |
| ٧ | پروژهٔ مس ساحهٔ آبگرمک | ادرسکن | هرات | مس | ٤,٦٣٠٣١٥ |
| ٨ | پروژهٔ سنگ مرمر ساحهٔ جر زمستانی | چشت شریف | هرات | مرمر | ١,٥٨٢١٣٩ |
| ٩ | پروژهٔ سنگ مرمر ساحهٔ کفتر خانه | شیخ علی | پروان | مرمر | ١,٢٧٨٣ |
| ١٠ | پروژهٔ سنگ مرمر ساحهٔ گلستان | گلستان | بامیان | مرمر | ٨,٩٠٠٣٨٨ |
| ١١ | پروژهٔ ذغال سنگ ساحهٔ کلور | تولک | غور | ذغال سنگ | ١,٥٠٣ |
| ١٢ | پروژهٔ سنگ مرمر ساحهٔ اعطا خان | کوه بند | کاپیسا | مرمر | ٤,٩٤٧ |
| ١٣ | پروژهٔ سنگ مرمر بلاک A یورد بالا | بهسود | وردک | مرمر | ٢,٧٧٨٦٠٩ |
| ١٤ | پروژهٔ سنگ مرمر بلاک B یورد بالا | بهسود | وردک | مرمر | ١,٢٨٨٧٨٥ |
| ١٥ | پروژهٔ سنگ مرمر بلاک C یورد بالا | دایمیرداد | وردک | مرمر | ١,٣١٠١٦٤ |
| ١٦ | پروژهٔ ذغال سنگ خواجه گورگور | جوند | بادغیس | ذغال سنگ | ١,٩٥٢٠٤ |

ریاست تنظیم امور معادن بزرگ

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې




| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۶۸,۰۵ | ؋۶۸,۱۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ؋۲۳۵ | ؋۲۳۵ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۱,۲۳ | ؋۱,۲۳ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۱,۹۹ | ؋۷۲,۰٤ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,٦٤ | ؋۰,٦۴ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋۸۰۵ | ؋۸۰۵ |
| ۱ | انگليسي پونډ | ؋۸٦,٦۷ | ؋۸٦,۷٤ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۸,۱۱ | ؋۱۸,۱۳ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۸,۵۳ | ؋۱۸,۵۴ |
| ۱ | چيني ين | ؋۹,٤۰ | ؋۹,٤۰ |

